دوديال ۲۰۲۳/۰۸/۱۳

# د وګړشمېرنې احتمالی ستونزې او څو وړاندیزونه

## (څلورمه برخه)

شک نشته چې تېرو شلو کلونو کې د احصائیې مرکزی اداري ته پاملرنه شوې وه، دنړيوالی ټولنې، په تېره د نفوسو د صندوق له خوا ورسره مرستې وشوې او یوه مجهزه تخصصي اداره وه. ولایاتو کې یې ریاستونه، لازم تشکیل او دفترونه لرل، هرکال یې یو شمېر سروېګاني کولې او له ټولو اداراتو یې ارقام راټولول، احصائیوي کالنی خپرېده، د (احصائیه) مجله هم فعاله وه، مامورینو لازم ټریننګ هم ترلاسه کړی و، خو د بشپړې وګړشمېرنې(سرشماری کامل/ کُلی) امکان څکه نه و چې له ښارونو څخه بهر امنیت نه و او د دې امکان نه و چې د شمیر ګروپونه کلیو ته ولاړ شي. اوس چې جګړه ودرول شوه، د دې مهم ضرورت د پوره کولو وخت دی.
ترڅو دټول هیواد، هر جلاجلا کلي او ټولو سیموپه هکله لازم معلومات او ارقام ونلرو، هیڅ اقتصادی -اجتماعی برنامه او پروژه نشو تطبیق کولای. اوس په کار ده چې د نفوسو نړیوال صندوق ته پروپوزل واستول شي او د هغو کمک جلب شي. د دې پروژې په پیل سره به له یوې خوا د افغانستان د نفوسو ریښتیانی شمیر معلوم شي، له بلې خوا به د وګړو ټول کیفی او کمی نوي خصوصیات دهغو دسني او جنسیتی ترکیب، عوایدو، شغل، تعلیم، ښاری، کلیوالی او کوچی په تفکیک سره ترلاسه شي. د دې پروژې په پیل سره به ډېرو وزګارو ځوانانو ته د کار زمینه برابره او د احصائیې د مرکزی اداري د پرسونلو ظرفیت به په کار ولوېږي، یوه نوې تجربه به ترلاسه شي. په دې سره به د بهرنیو بشری مرستو بنه له(بشری) څخه ( Aid Development Official/ODA) ته واوړي، ورسره به دا هیله هم پیدا شي چې افغانستان به د ثبات لرونکی پرمختیا اهدافو( SDGs)(چې اووه کاله وخت ورته لرو) ته ورسیږي/نږدې شي. په هیواد کې هره سراسري ملی پروژه او پروګرام ملی یووالی هم تامینوي. په دې توګه دا اقدام سیاسی، ټولنیزی، کلتوری او اقتصادی ګټې لري. دا چې اوسنی نظام د یو شمیر نویو ولسوالیو د جوړولو نیت لري، دهغو واقعی دلیل به روښانه شي، که یو شمیر ولسوالی بې له لازمو شرطونو په پام کې وي، له هغو به صرف نظر وشي. په دې توګه به دپراخه - فعاله، خدمتګزاره حکومتولی لپاره لار هواره شي.
خو له دې ټولو سره سره یو شمیر ستونزې هم شته:

- د نفوسو نړیوال صندوق ته قناعت ورکول او د هغوی د شرایطو پوره کول،
- د کافی مسلکی کارکوونکو ګومارل، دا څکه چې متاسفانه یو شمیر تجربه لرونکی، ماهر مسلکی کارکوونکی له هیواده وتلي دي.
- د م. م. دنفوسو د نړیوال صندوق پاملرنه رااړول تر څو کافی فنډ چمتو کړي، تر څو د افغانستان ستونزمنو شرایطو کې د پروژې دټول لګښت کفایت وکړي،
- د نفوسو غیرعادي ګرندي حرکات( مهاجرتونه، مړیني او تولدات) شته، خصوصاً د مهاجرت سلسله دوام لري، د نفوسو دا ناغوښتی څپانده حرکت د شمیر عملیه ستونزمنه او آن شکمنه کوي،
- شاید په پښتون میشتو سیمو کې یو شمیر کورنی دهغو ځوانانو په ټولو او شمیر کې نه شاملولو اقدام وکړي چې یا یې پوهنتون او ښوونځی لوستی یا یې تیر رژیم کې رسمی ماموریت درلود.دا څکه چې پښتون میشتو سیمو کې دا ډول ځوانان ګواښ سره مخامخ دي،
- هیله ده د احصائیې مرکزی اداره د خپلواکي او مسلکی اداري په توګه تبارز وکړي، پرته له هغه هرډول سیاسی یا د ناوړې استفادې غرضونه دا پروسه بې اعتباره او د نه عملی کیدو خواته بیایی،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- د خلکو د لازم پوهاوی ستونزه د دې لامل ګرځي چې، کورنۍ پوښتنو ته سم ځواب ونه وايي. په تیره بیا د کورنۍ هغه مشران چې محافظه کار او بېسواده دي، د پوښتنلیک دنیمګړې او ناسم ځوابولو لامل کېدای شي،
- کافي وخت: باید ځلور مخکنۍ ویل شوي ټول پړاوونه په دقت ترسره شي.

له نیکه مرغه د دغې برخې یو څو د ګوتو په شمارمتخصصین لله الحمد حیات دي، خدای دې اوږد ژوند ورپه برخه کړي، دوی کولای شي، له اړوند نړیوالو ادارو سره اړیکې ونیسي، د ستونزو په صورت کې استدلال او د اړتیا لپاره یې لازمه لابی وکړي او د پروژې او پروپوزل د جوړولو، منلو او د تطبیق په جریان کې بهترین مشاورین اوسي، د بیلګې په توګه د لومړنۍ بشپړې وګړشمیرنې د پروژې عمومی رییس ښاغلی ملکزی صاحب، د شمميرلو ساحوی مدیر ښاغلی محمد صدیق وفا( هالند)، عبدالله سلطانی د نشراتو پخوانی مدیر(سدنی)، ډاکتر صاحب نور احمد خالدی(برزین، آسترلیا)، استاد غلام محی الدین شهباز د مرکزی احصائیې پخوانی وزیر او دیمو ګرافی د مضمون استاد اوس د آسترلیا په ملبورن کې اوسي، جناب آصفی چې د تبلیغاتو آمرو. له دې برعلاوه همدا اوس د دې ادارې ډیر تجربه لرونکی او پوه مسلکی کادرونه عملاً همدا اوس د احصائیې مرکزی اداره کې د خدمت په حال کې دي. له دې برعلاوه کیدای شي، د چمتووالي پړاو کې د اقتصاد د پوهنځیو هغه شمیر فارغان هم چمتو کړو چې وزګار دي او د دوه یا درې میاشتو په ترڅ کې د دیموګرافی او د نفوسو د تحلیل د لکچرونو او کورسونو په بهیر کې یې ظرفیت اوچت کړو. موږ باور لرو چې د احصائیې د مرکزی ادارې موجود همکاران په عالی وطني او تخصصی روحیه په هسکه غاړه دغه ملی دنده ترسره کولای شي.(ان شاالله).



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ